

Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 111-122

# A Study on Morphological Analysis of Suffixes Ne and Ez

**Rahimullah Gahiz**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan

**Corresponding Author:** Rahimullah Gahiz, **E-mail:** r.gahiz@gmail.com

**Article Info**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**
Received:
18, June, 2025

**Accepted:**
16 August, 2025

**Published:**
20, August, 2025

ABSTRACT

This research addresses the significance of suffixes such as *NE* and *Ez* in the Pashto language, particularly in the formation of possessives. The manuscript discusses these suffixes' morphological characteristics and their impact on word formation, highlighting their derivational and inflectional changes. The primary objectives of this study are to promote the correct usage of these suffixes and to guide writers and students in avoiding common mistakes. The research employs a descriptive method for data analysis, utilizing updated references for data collection. While previous studies primarily focused on the usage of these suffixes as possessives, this study expands the understanding by demonstrating that they can be applied to bound morphemes ending in consonants, vowels, and bilabials. For example, the suffix *NE* forms words like *Ghar Gharanay* (Mountain-Mountainous) and *Saba Sabanay* (Tomorrow-related). Notably, words ending in vowels and bilabials often exceed two syllables. Additionally, the suffix *Ez* is shown to function similarly with bound morphemes. Examples include *Nom - Nomez* (Noun-related) and *Jagra - Jagraiz* (War-related). The study elucidates that if a word ends in a consonant, the *Ez* suffix is attached directly. In cases where the final vowel is unstressed, a similar method applies, while stressed final vowels require a different approach using the two-syllable format of *Ya*. This comprehensive analysis enhances the understanding and application of these possessive suffixes in Pashto.

**Keywords:** Bound Morpheme, Free Morpheme, Nay and Ez, Suffixes.

To cite this article: Gahiz, R. : 2025. A Study on Morphological Analysis of Suffixes Ne and Ez. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 - Summer (2025), 111-122. License:
RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan

د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 111-122

# د (نی) او (ییز) نسبتي روستاړو مورفولوژيکي څېړنه

پوهنیار رحیم الله ګهیځ

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانګه.

| اطلاعات مقاله | لنډیز |
|---|---|
| نوع مقاله: مقاله مروری<br><br>تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/۳/۲۸ هـش<br><br>تاریخ پذیرش: ۱۴۰۴/۵/۲۵هـش<br><br>تاریخ انتشار: ۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـش | د دې څېړنې ارزښت داد، چې د (نی) او (ییز) نسبتي روستاړو په برخه کې نوي او تازه مالومات وړاندې کوي. د مشتقو کلمو په جوړونه کې یې د ونډې اخیستلو ځرنګوالی څرګندوي. د (نی او (ییز) نسبتي روستاړو مورفولوژيکي څېړنه، کې دوه نسبتي روستاړي د خپلو مورفولوژیکي ځانګړنو له مخې څېړل شوي دي. دا نسبتي روستاړي د ژبې په داخلي تولید او پراختیا کې اغېزناکه ونډه اخلي. ژبه د ولاړ حالته باسي او لغوي زېرمه یې بډایه کوي. موخه مې د دې روستاړو د سمې کارونې ځای او د مربوطه کلمو پېژندل . ګټه یې دا ده، چې د پښتو ژبې زده کونکي او یا هم لیکوالان د (نی) او (ییز) په کارونه کې له تېروتنو وژغوري. دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې د تشریحي- تحلیلي مېتود په مرسته یې مواد سپړل شوي دي. په دې څېړنه کې له اړوندو معتبرو ماخذونو ګټنه شوې ده. په تېرو څېړنو کې یې یوازې دومره یادونه شوې، چې( نی) او (ییز) نسبتي روستاړي دي او بس؛ نو د دې روستاړو هر اړخیزه څېړنه یو جدي اړتیا وه.  (نی) نسبتي روستاړی په خپلواک، بېواک او غبرګغبر پای ځینو کلمو پورې نښلي، لکه: غر- غرنی، سبا- سبانی، لاندې- لاندېنی، پورته- پورتنی. پسرلی- پسرلنی دا روستاړی، په بېواک او غبرګغبر پای کلمې دوې نورې ځپې او په خپلواک غبر پای کلمه یوه ځپه نوره اوږدوي. ( ییز) هم په بېواک، خپلواک او غبرګغبر پای، ځینو کلمو پورې نښلي، لکه نوم- نومیز، جګړه- جګړه‌ییز، توغندی- توغندیز .دا روستاړی بیا کله د (یز) او کله(ییز) بڼه غوره کوی |

**کلیدي کلمې:** خپلواک مورفیم، روستاړی، مختاړی، ناخپلواک مورفیم، نی او ییز.

استناد:ګهیځ ، رحیم الله. (۱۴۰۴)، د (نی) او (ییز) نسبتي روستاړو مورفولوژيکي څېړنه ، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، تابستان (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۷، دور۱۳. (۱۱۱-۱۲۲) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

الحمدالله والصلواة والسلام على رسول الله صلی الله عليه وسلم!

اما بعد:

د الله تبارك وتعالی د بې‌شمېره نعمتونو له جملې څخه يو ستر نعمت ژبه ده، چې انسان ته يې ورکړې او هغه يې پرې ممتاز گرځولی دی. بېشکه چې د دې الهي ډالۍ جوړښت هم د هغه سپېڅلي ذات د لايتناهي قدرت او حکمت له نښو خالي نه دی. د (نی او ییز) نسبتي روستاړو مورفولوژيکي څېړنه - د الله تعالی د دې عظمې ډالۍ( ژبې) د يوې خورا ډېرې کوچنۍ نښانې څخه يوه نښه ده، چې د تشريحي- تحليلي مېتود پر مټ څېړل شوې ده. په دې مقاله کې لومړی مورفيم تعريف شوی او بيا يې ډولونو ته څغلنده کتنه شوې. ورپسې د (نی او یيز) نسبتي روستاړو پېژندنه راغلې او بيا د هر يوه د کاروني سم او کره ځای په گوته شوی دی.

د يادو نسبتي روستاړو د کاروني کلمې او مورفيمونه مالوم دي، بايد هماغو کلمو سره وکارول شي، نه يو د بل پر ځای. په دې کار سره به له يوې خوا د مورفيمونو / کلمو ژبنی نظم وساتل شي او د بلې خوا به يې طبعي خوږښت، موسيقي، اساني او رواني زيانمنه نه‌شي. د (نی) نسبتي روستاړی په ځينو هغو مورفيمونو او کلمو پورې نښلي، چې په بېواك غږ پای وي او دغه کلمې دوې څپې نورې اوړدوي، لکه غر+ نی= غرنی( درې څپې). همدارنگه دا روستاړی په بېلابېلو خپلواکو غږونو پای ته رسېدلو کلمو پورې هم نښلي، لکه: سبا، لاندې، غرمه او غرڅه. دا وړ کلمې يوازې يوه څپه نورې اوږدوي. په ځينو غبرگغږونو پای کلمو پورې هم نښلي، لکه: پسرلی او ژمی. د (یيز) نسبتي روستاړی په ځينو بېواك غږ پای کلمو پورې د (يز) په بڼه نښلي لکه: نوم- نوميز. همدارنگه په ځينو بېلابېلو خپلواکو غږونو پای ته رسېدلو کلمو پورې هم نښلي، لکه، جگړه- جگړييز، ټولنه- ټولنيز. په ځينو غبرگ غږونو پای کلمو پورې هم نښلي، لکه: سوړمی- سپوږميز، توغندی- توغنديز. يانې که د کلمې روستی واول خجن و، هلته د (ییز) په بڼه او که بې‌خجه و، بيا د بېواك پای کلمو په څېر د (يز) په بڼه نښلي. د يادولو وړ ده، چې زموږ د ژبې په کتابونو کې د دغه مقيد مورفيمونو يادونه يوازې د بېلگې تر برېده شوې ده. خو په دې څېړنه کې بيا د دې روستاړو په ډېرو تياره اړخونو رڼا اچول شوې ده. هيله لرم چې دا څېړنه به هغه تشه ډکه کړي، چې د دې روستاړو د پېژندې او سمې کاروني په برخه کې احساسېده.

**مورفولوژي**

د گرامر هغه برخه چې د ژبې د مورفيمونو جوړښت، ځانګړنې او ډولونه او... سپړي مورفولوژي نومېږي، د دې پوهنې د بحث اساسي واحد مورفيم دی. مورفيم هغه کوچنی ژبنی مانيز واحد دی، که تجزيه شي، خپله مانا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزيه کېدو بې مانا اوازونه لاسته راځي. يا مورفيم يو نه تجزيه کېدونکی مانا لرونکی واحد دی(خوښکی، ۱۳۹۸: ۲۰)

په لويه کې مورفيم په دوه ډولونو وېشل شوی: ۱. خپلواک مورفيمونه // ۲. ناخپلواک مورفيمونه

**۱.** خپلواک مورفيمونه: چې په ژبني بهير کې په خپلواکه توګه يوه مانا ښندي او په دې توګه د« ويی» دريځ راخپلوي، لکه: کور، اور، اوبه، مالګه... . نومونه، کړونه او کړولونه«قيدونه» د ازادو ګړونو ډولونه جوړوي( زيار، ۱۳۸۴: ۸۳)

**۲.** ناخپلواک مورفيمونه: د يوې ژبې په عبارت او وينا کې هغه وړې توټې او برخې چې په ځانګړي او مستقل ډول د استعمال وړ نه وي، ياني که ځانګړي او خپلواک ډول استعمال شي، نو هيڅکله مانا نه ورکوي، لکه کتابونه کلمه چې د دوه مورفيمونو څخه جوړه شوې ده، (کتاب) خپلواک مورفيم او (ونه) د جمعې روستاړی ناخپلواک مورفيم دی. که چېرې د کتاب کلمې څخه لېرې کړی شي په خپلواکه توګه مانا نه ورکوي (خوښکی، ۱۳۹۸: ۲۵). ناخپلواک يا تړلي مورفيمونه ګرامري مانا لري، چې د نورو مورفيمونو سره د يوځای کېدو په صورت کې راڅرګندېږي. دا مورفيمونه هم په دوه لويو ډلو وېشل شوي دي:

**۱. ساختماني نښې:** په دې برخه کې سربلونه او وستربلونه، د ربط نښې، د عطف نښې او د غږونو (اصوات) نښې شاملې دي.

**۲- تاړي( وندونه)** چې په مختاړو، منځتاړو او روستاړو وېشل شوي، چې مختاړي او روستاړي يې بيا په خپل وار په فاعلي او کلمه جوړونکو مختاړو او روستاړو تقسيم شوي دي. تاړې په ژبه کې نوې کلمې رامنځ‌ته کوي. په ژبه کې د نويو کلمو د رامنځ ته کولو ډېرې نورې لارې هم شته؛ لکه: (اختراع، مخلوطېدل، اختصار، معکوس جوړښت، مخفف او... .)(ترابي، ۱۴۰۲: ۱۰۲).

**۱-۱. مختاړي**: هغه ناخپلواک مورفيمونه دي، چې د کلمې په سر پورې نښلي او يو نوی مشتق رامنځ‌ته کوي؛ لکه: (روغ) کلمې سره چې (نا) راوړل شي؛ لکه: ناروغ. دا روستی مانا د مخکنۍ مانا څخه بلکل بدله او بېله ده. مختاړي هم په دوه ډوله دي: د مطلقيت مختاړي او کلمه جوړونکي مختاړي.

**۲-۲. روستاړي** ( Suffixes) هغه تاړي یا وندونه دي، چې د مربوط مورفیم یا کلمې په پای پورې نښلول کېږي او یو نوی مشتق رامنځ‌ته کوي، داسې چې شکل او مانا یې له هغه بنسټیز مورفیم څخه توپیر ولري؛ لکه /نی/ چې له (کور) څخه کورنی جوړوي او په دوه ډوله دي، ۱. صرفي روستاړي، چې په فاعلي او مفعولي روستاړو وېشل شوي دي. ۲.کلمه جوړونکي روستاړي، چې په په نسبتي، تصغیري، مکاني، صوتي او فعلي روستاړو وېشل دي( خوږشکی،۱۳۹۸: ۳۱).

**د روستاړي ځانګړنې او دندې**

۱.لغوي مانا نه؛ بلکې ګرامري مانا لري.

۲. روستاړي مورفیم/کلمې ته نوې بڼه او نوې مانا ورکوي.

۳. د کلمې د مانا په پراخې او کوچنیوالي کې ونډه اخلي.

۴. د ژبې لغوي لمن پراخوي.

۵. ژبنۍ کلمې/ مورفیمونه د ولاړ حالت څخه باسي او په حرکت راولي.

٦. د جملې د حرکت لوري کې برخه اخلي، چې ورسره د افهام او تفهیم چاره دقیقه، رسا او اسانېږي.

۷. د ژبې د داخلي تولید د باقاعده نظم څرګندونه کوي.

۸. د ژبنیو توکونو په ګرامري ډلبندۍ او وېشنه کې اساني راوړي.

دا چې زما د مقالې موضوع د دوه نسبتي روستاړو(نی او ییز) مورفولوژیکي څېړنه ده؛ نو موږ به یوازې د همدغه روستاړو پر څېړنه پیل وکړو.

**نسبتي روستاړي**

نسبتي روستاړي هغه دي، چې یو نوم، قام، ځای، جنس او... ته نسبت کوي، لکه: وال، خېل، زی، ین، نی او ییز. موږ دغه روستاړو له ډلې یوازې روستي دوه روستاړي( نی او ییز) څېړو.

**۱. نی/نۍ**

دا علامه، د زمانې، ځای او داسې بل نسبت د پاره د ظروفو په آخر کښې راوړل کېږي، لکه: له اوس څخه اوسنی، له میاشت څخه میاشتنی( ږښتین،۱۳۸۹: ۷۴).

***نی/نۍ***؛ ناخپلواک مورفیم دی. په دې مانا چې خپلواکه/ لغوي مانا نه لري، خو یوه ګرامري مانا پکې پټه ده او هغه وخت راڅرګندېږي، چې کله د نورو (خپلواکو مورفیمونو) سره ونښلي، لکه: کور+نی= کورنی/ کور+نۍ= کورنۍ.**کور**، خپلواک مورفیم دی. لغوي مانا لري او د اوسېدو پر هغه ځای اطلاق کوي، چې دېوالونه، دروازه، خونې او... ولري. د روستاړي(نی/نۍ) په نښلولو ترې کورنی/کورنۍ جوړه شوه. د دې مشتق(کورنی/ کورنۍ) بڼه او مانا دواړه نوي شول او په هغه خلکو/ څه اطلاق کوي

چې د دغه کور اړوند دي او یا پکې اوسېږي. دلته د روستاړي ګرامري مانا د نسبت په کولو راڅرګنده شوه؛ نو ځکه خو (نی/ نی) نسبتي روستاړی بلل کېږي. دې روستاړي د خپلې ګرامري مانا په څرګندولو سره بل مورفیم ته نوې بڼه او مانا ورکړه. د ژبې لغوي لمن یې بډایه کړه او د ژبې د داخلي تولید د باقاعده نظم څرګندونه یې وکړه.

**کارېدنځای**

دا روستاړي چې په کومو مورفیمونو/ کلمو پورې نښلي او نسبتي ستاینومونه ترې جوړوي، هغه کلمې یوازې د وروستي توري (ګرافیم) پر اساس نومول شوي، چې عبارت دي له واول او بېواک څخه.

۱- دا روستاړی په ځینو هغو کلمو/ مورفیمونو پورې نښلي، چې په  بېواک(کانسوننټ) غږ پای وي، لکه:

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوې/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | غر | نی/ نی | غرنی/ غرنی |
| ۲ | سهار/سحر | نی/ نی | سهارنی/ سهارنی/سحرنی/ سحرنی |
| ۳ | ماښام | نی/ نی | ماښامنی/ ماښامنی |
| ۴ | مازیګر | نی/ نی | مازیګرنی/ مازیګرنی |

۲- دا روستاړی په ځینو هغو کلمو پورې هم نښلي چې په واول غږ پای شوې وي. دغه کلمې بیا په لاندې برخو وېشل شوې دي:

الف- هغه کلمې چې په اوږده واول ( الف- ā) پای د دې روستاړي په سیله نسبتي کېږي.

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوې/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | سبا | نی/ نی | سبانی/ سبانی |
| ۲ | خندا | نی/ نی | خندنی/ خندنی |
| ۳ | امریکا | نی/ نی | امریکانی/ امریکانی/ امریکنی |
| ۴ | ابا | نی/ نی | ابانی/ ابانی |

ب- د دې روستاړي په وسیله ځینې هغه کلمې هم نسبتي کېږي، چې په اوږده واول ( ې-e) پای وي، دغه واول نه غورځي، خو ځینې خلک یې په لیک کې د قاعدې خلاف غورځوي، چې سم نه برېښي، لکه:

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوي/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | لاندي | نی/ انی | لاندېنی/ لاندېنی |
| ۲ | باندي | نی/ انی | باندېنی/ باندېنی |
| ۳ | وړاندي | نی/ انی | وړاندېنی/ وړاندېنی |
| ۴ | | نی/ انی | |

ج- ځیني هغه کلمې هم د دې روستاړي په سیله نسبتي کېږي، چې په زور( ه- a) پای وي. که د کلمې روستی واول خجن نه و، د روستاړي په نښتلو سره غورځي او په مشتق کلمه کې شکلي او معنوي یووالی سره غاړه غړی کېږي، لکه:

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوي/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | شکته | نی/ انی | شکتنی/ شکتنی |
| ۲ | پورته | نی/ انی | پورتنی/ پورتنی |
| ۳ | غرمه | نی/ انی | غرمنی/ غرمنی، پورتنی |
| ۴ | غرڅه | نی/ انی | غرڅنی/ غرڅنی |

**نی/ انی**؛ یوڅپیز نسبتي روستاړی دی، که په داسې کلمو پورې ونښلي چې په اوږده واول( الف او ې) پای وي، دغه کلمې یوازې یوه څپه یاني د ځان په اندازه اوږدوي، لکه: **سبا** او **باندې** کلمې چې دوې- دوې څپې لري د روستاړي له نښتلو روسته په درې څپزو کلمو بدلېږي( سه -با-نی او پ -رو-نی). نورې په کانسوننټ پای کلمې چې دغه روستاړي وریورې نښتلی شي، دوې څپې اوږدوي یاني یوڅپیزه کلمه لکه: **غر**؛ په درې څپیزه او د **مازیگر**؛ درې څپیزه کلمه په پینځه څپیزه بدلوي( غه-ره-نی او ما-زی-گه-ره-نی). **پرون**؛ بیا داسې کلمه ده، چې په کانسوننټ پای ده، خو د (نی) روستاړي د نښتلو روسته یې یوه څپه د خپلواک پای کلمو په څېر زیاتېږي. دلته څو خبرې شته چې یادونه یې گټه لري، یو؛ د ژبې ځینې استادان (څېړونکی) وایي، چې د (پرون) کلمه د (نی) په وسیله نه، بلکې د ( ی) په وسیله نسبتي شوې ده. ځکه یې یوه څپه زیاتېږي. دویم دا کلمه( پرون) ځینې نومیالیو څېړونکو په خپلو څېړنو کې د (نی) روستاړي په وسیله نسبتي کړې ده، د دغو څېړونکو له ډلې د پوهاند صدیق الله رښتین او پوهاند محمد صابر خویشکي نومونه یادولی شو. زه خپله په دې نظر یم، چې دا کلمه( پرون) د (نی) په وسیله نسبتي شوې ده؛ ځکه یو خو یې ژبڅېړونکو همدغسې ذکر کړې. بل د دغه کلمې روستی کانسوننټ( ن) د روستاړي د لومړني توری( ن) سره د نښتلو پر وخت مغلق جوړښت (کلستر) رامنځ ته کړی او بیا د کلمې د روانی او اسانی په موخه د کلمې د داخلي فشار په نتیجه کې مات شوی، نو ځکه یې یوازې یوه څپه زیاته شوې. بل دغه کلمه د مهال قید دی او د مهال نور قیدونه؛ لکه: اوس او نن، هم د (نی) روستاړي په وسیله نسبتي کېږي، لکه: اوسنی او

ننی. په روستی کلمه( نن) کې هم د روستاړي په یوځای کېدو کلستر رامنځ ته شوی، خو دغه کلستر بیا د واول( زور) د داخلېدو په وسیله مات شوی او توری نه دی غورځېدلی. دا چې د (نی) روستاړی ولې په اوږده واول( الف او ې) پای کلمې یوه څپه او نورې کلمې دوې څپې اوږدوي؟ ممکن وجه یې دا وي چې یاد توري اوږده واولونه دي، د غځېدو ښه قابلیت لري، د کلمې روستی څپه د راښکلو سربېره خجنه کوي او دا چاره د کلمې څپيزه خپلواکي ساتي، نه پرېږدي چې روستاړی پرې اغېز وکړي، چې په دغه صورت کې روستاړی په لږ زماني واټن( مکث) سره لوستل کېږي. دا چاره په هغه کلمو کې ډېره څرګنده وي چې روستاړی ورسره یوازې په معنوي لحاظ نښتی وي، نه په شکلي لحاظ.

### ۲. یز/ییز

دا هم مقید مورفیم دی( خپلواکه مانا نه لري) او دنده یې د نسبتي ستاینوم جوړول دي. دا روستاړی د مورفیمونو/کلمو مورفولوژیکي جوړښت(ځانګړتیاوو ) ته په کتو دوې(یز او ییز) بڼې خپلوي، چې دغه بڼې به یې د کارولو د قاعدې په ترخ کې روښانه شي.

۱. دا روستاړی ځینې هغه مورفیمونه یا کلمې په نسبتي ستاینومونو بدلوي، چې په خپلواک (واول) غږ پای وي او دا کلمې هم په دوه ډوله دي:

الف: په دې ډلګی کې هغه کلمې راځي، د پای واول یې خجن وي او روستاړی ورسره نه شي نښتلی، یانې په مشتق کلمه کې یوازې معنوي یووالی رامنځ ته کېږی، نه شکلي، خو روستاړی باید ورپسې په نیمه فاصله ولیکل شي، لکه:

| شمېره | مورفیم/کلمه | روستاړی | نوې/نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | جګړه | ییز | جګړه‌ییز |
| ۲ | وسله | ییز | وسله‌ییز |
| ۳ | سوله | ییز | سوله‌ییز |
| ۴ | وټه | ییز | وټه‌ییز |
| ۵ | سیمه | ییز | سیمه‌ییز |
| ٦ | چره | ییز | چره‌ییز |
| ۷ | ګوله | ییز | ګوله‌ییز |
| ۸ | جرګه | ییز | جرګه‌ییز |
| ۹ | نخره | ییز | نخره‌ییز |
| ۱۰ | ښکلا | ییز | ښکلاییز |

پورتني جدول کې ټولې راغلې کلمې په واول( زور) پای دي بغیر د (ښکلا) او د (ییز) روستاړي په وسیله تري نسبتي ستاینومونه رغېدلي دي. دا چې دغه واول( زور) خجن واقع شوی دی او د کلمې روستی څپه یې خجنه کړې، نو ځکه ورسره د (ییز) روستاړي نه نښلي. دا وړ کلمې تقریبن ټولې دوې څپیزې وي، روستاړی باید د کلمې سره نږدې (په نیمه فاصله) ولیکل شي، نه په پوره فاصله او نه په نښتي بڼه. نیمه فاصله د کمپیوټر په کیبورډ کې په Shfit+B سره راځي.

ب: دې ډلګۍ کې هغه کلمې راځي، چې د پای واول یې بې‌خجه وي د روستاړي په نښتلو سره غورځي او روستاړی هم د(یز) په بڼه ورسره نښلي، لکه:

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوې/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ټولنه | ییز | ټولنیز |
| ۲ | ښوونه | ییز | ښوونیز |
| ۳ | روزنه | ییز | روزنیز |
| ۴ | کړ/ کړنه | ییز | کړنیز |
| ۵ | بدله | ییز | بدلیز |
| ٦ | سندره | ییز | سندریز پرتله پرتلیز؟ |
| ۷ | مانا | ییز | مانیز |
| ۸ | څپه | ییز | څپیز |
| ۹ | اوسپنه | ییز | اوسپنیز |
| ۱۰ | پښتویه | ییز | پښتوییز |
| ۱۱ | ننداره | ییز | نندariz |
| ۱۲ | ولوله | ییز | ولولیز |

کله چې د کلمې پای واول بې‌خجه وي( سپکه څپه یې جوړه کړې وي) نو د سینکوپ قاعدې په تطبیق، د مانیز یووالي سره د بنې (لیک) یووالی هم غاړه غړی کېږي. په دې صورت کې د کلمې له وروستی څپې بې‌خجه واول(ګرافیم) غورځي او روستاړی ورسره نښلي. لسمه شمېره کلمه( پښتویه) کې روستی بې‌خجه واول غورځېدلی، خو د کلمې پاتې برخه د نښتلو قابلیت نه لري، نو ځکه وسره روستاړی( ییز) په ثابته بڼه نږدې راغلی دی، ترڅو روستی څپه خجنه شي.

سینکوپ: خجن واول[څپې] ته څېرمه واول حذفېدل سینکوپ بلل کېږي... لکه: پوهنه+ ځی= پوهنځی( خوېشکی،۱۳۹۷: ۷۰). د سینکوپ قاعده د ټولو روستاړو لپاره ده، ځکه چې روستاړي او په ځانګړې توګه د نسبت روستاړي ټول خجن دي، د ار کلمې د پای روستی بې‌خجه واول په اسانی غورځوي او ځان ورپورې نښلوي.

۲. د (یيز) روستاړی، ځینې هغه کلمې هم په نسبتي ستاینومونو بدلوي، چې په بیواک(کانسوننټ) غږ پای ته رسېدلې وي. د دغه وړ کلمو سره د (یز) په بڼه نښلي؛ لکه:

| شمېره | مورفیم/ کلمه | روستاړی | نوي/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | نوم | یيز | نومیز |
| ۲ | دود | یيز | دودیز |
| ۳ | بم | یيز | بمیز |
| ۴ | لمر | یيز | لمریز |
| ۵ | غزل | یيز | غزلیز |
| ٦ | یو | یيز | یویز |
| ۷ | لس | یيز | لسیز |
| ۸ | سل | یيز | سلیز |
| ۹ | زر | یيز | زریز |
| ۱۰ | اندول | یيز | اندولیز |
| ۱۱ | بنډل | یيز | بنډلیز |
| 21 | ګړدود | یيز | ګړدودیز |
| ۲۲ | ژبدود | یيز | ژبدودیز |
| | سنګر | | سنګریز |

پورتني جدول کې ټولې هغه کلمې راغلې دي، چې په بیواک غږ پای دي او د نسبت روستاړی ورسره د (یز) په بڼه نښتی او نسبتي صفتونه یې جوړ کړي دي. دغه ډول کلمې تر ډېره یو ځپيزې وي. په کمه اندازه په بیواک غږ پای -ساده، مشتق او ترکیبي-کلمې شته، چې تر یوې ډېرې( څو ) ځپیزې وي او دغه روستاړی ورپورې نښلي، لکه: غزل، سنګر، اندول، بنډل، ګړدود، ژبدود او...

۳. دا روستاړی په ځینو هغو کلمو پورې هم نښلي، چې په غبرګ غږ( ی‌ay) پای وي، خو بېلګې یې بېخي کمې دي؛ لکه:

| شمېره | مورفیم/کلمه | روستاړی | نوي/ نسبتي بڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | سپوږمۍ | یيز | سپوږمیز |
| ۲ | سپېرغۍ | یيز | سپېرغیز |

۴-د دې روستاړي په وسیله ځینې هغه کلمې هم نسبتي کېږي، چې په نرم غبرګ‌غږ( ی-ay) پای ته رسېدلې وي، د دې ډول کلمو بېلګې هم کمې دي؛ لکه:

| شمېره | مورفیم/کلمه | روستاړی | نوې/نسبتي بڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | توغندی | ییز | **توغندیز** |
| ۲ | غویي | ییز | **غواییز/غوییز** |
| ۳ | ویې | ییز | **وییز** |

دا نسبتي روستاړي(نی او ییز) هر یو خپلې ځانګړنې لري، د کاروني ځایونه یې تر ډېره معلوم دي، نه باید د یو بل پرځای وکارول شي. ځینې خلک چې د دې روستاړو د مورفولوژیکي خصوصیاتو سره بلد نه وي، ډېر وخت یې ناسم(یو د بل) پرځای کاروي، په ځانګړې ډول دغه تېروتنه په هغو کلمو کې رامنځ ته کېږي چې په بېواک غږ پای وي، لکه غر، سیند، نوم او... . د سمې کاروني اسانه لار یې همدا ده، چې د کلمې سره دواړه روستاړي تلفظ شي،که دواړه سم تلفظ شول، نو باید د (نی) روستاړی وکارول شي. ځکه چې د (نی) په وسیله مشتقې کلمې په ویلو کې نرمې او اسانې ډېره وي نسبت د (ییز) هغه ته؛ لکه: غر- غرنی- غرییز(دواړه ورسره په تلفظ برابر دي) همدارنګه سیند-سیندنی- سیندیز، نو باید پوهه شو، چې سمې بڼې یې ( غرنی او سیندنی) دي. د (نی) روستاړی هیڅکله د (ییز) پرځای نه کارېږي. اوس که د (نوم) کلمې سره دغه روستاړي وکاروو، پوهېږو چې (نوم سره ییز) اسان تلفظ کېږي؛ خو (نی) ورسره سم نه تلفظ کېږي؛ ځکه وایو، چې سمه بڼه یې (نومیز) ده. یاني (نی) د (ییز) روستاړي د کاروني ځای کې سم نه تلفظ کېږي؛ خو برعکس( ییز) د (نی) د کاروني ځای کې کله ناکله سم تلفظ کېږي. په نرمه یا(ی) پای ځینې کلمې کله ناکله خبره تر دې هم پېچلې کوي، په دواړو روستاړو سره یوشان په اسانۍ او موسقیت تلفظ کېږي، یا هم دواړه بڼې سمې برېښي او موجود وي، لکه:

| شمېره | مورفیم/کلمه | روستاړي | | نوې/نسبتي بڼه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱ | پسرلی | نۍ/نی | ییز | پسرلنی، پسرلنۍ، پسرلیز/پسرلنیز |
| ۲ | ژمی | نۍ/نی | ییز | ژمنی، ژمنۍ/ |
| ۳ | ګړ | نۍ/نی | ییز | ګړنی/ګړنۍ، ګړیز |
| ۴ | وګړی | نۍ/نی | ییز | وګړیز/وګړنی |
| ۵ | کال | نۍ/نی | ییز | کلنی، کلیز، کلیزه او کالیزه |

موږ نشو کولای، چې په پورتنیو ټولو کلمو یوشان - د لنډیز، د تلفظ د اسانۍ او خواږه توب، ډېر دود او یا هم بل - اصل پلې کړو او ووایو، چې دا بڼې یې سمې دي. زما به فکر دلته باید د ډېر دود او نحوي چاپېریال د اصل پر بنسټ یوه پایله وړاندې کړی شي، داسې چې دا بڼه (پسرلنی)د پسرلیز/پسرلنیز په وړاندې ډېر دود دي؛ نو باید سم وګڼل شي. ( ژمیز) یوازې په تلفظ کې سم دی، خو استعمال نه لري، پر وړاندې یې( ژمنی) کره برېښي. د پښتو ژبپوهنې تکړه استاد پوهاند دکتور مجاور احمد زیار په خپل اثر« پښتو سیندګی» یا نویزونه کې د (ګړنی) مانا ګړهاري یا وینایيز او (ګړیز) مانا د مورفیم اړوند/ مورفیمي کړې ده.(زیار:۱۳۹۱: ۳۱۸) د کلمې په کچه (ګړنی او ګړیز) د تلفظ له پلوه تقریباً یوشان اسان او یوشان دود دي؛ نو دواړه ډوله سم دي؛ خو د کاروني چاپېریال ته یې باید پام

وشي. همدارنگه په (کلنی/ کلنۍ) کې د نسبتي ستاینوم ځانګړنه ډېره څرګنده بربښي او په (کليزه) د زور په زياتېدو بيا نومیزه ځانګړنه پیاوړې ښکاري.

**پایله**

تاړي (مختاړي، منځتاړي او روستاړي) د ژبې په ناخپلواکو مورفیمونو کې راځي. ناخپلواک مورفیمونه که څه هم خپلواکه مانا نه لري، خو د ژبې ډېره اړينه برخه ده. اهمیت يې په دې کې دی، چې د ژبې د داخلي تولید، ودې او پراختیا اغېزناک توکي( ژبنی ټوټې) دي او ژبه په خوځښت راولي. د ژبې د دې اهمې برخې څخه ما يوازې دوه نسبتي روستاړي( نی او يیز) څېړلي دي او دې پايلې ته رسېدلی یم، چې دا روستاړي د مختلفو کلمو/ مورفیمونو سره په بېلابېلو بڼو نښلي. (نی) نسبتي روستاړی په خپلواک او بېواک غږ پای ځینو کلمو پورې نښلي، لکه: غر- غرنی، سبا- سبانی، لاندې- لاندېنی، پورته- پورتنی. همدارنګه دا روستاړی ځینې غبرګغږ پای کلمې هم نسبتي کوي، لکه: پسرلی- پسرلنی، ژمی- ژمنی. دا روستاړی، بېواک غږ پای او غبرګغږ پای کلمې دوې څپې نورې اوږدوي، خو په خپلواک غږ پای کلمه یوازې یوه څپه نوره غځوي. د( يیز) نسبتي روستاړی په بېلابېلو غږونو(بېوک،خپلواک او غبرګغږ) پای، ځینو کلمو پورې نښلي، لکه نوم- نومیز، جګړه- جګړه‌ییز، ټولنه- ټولنیز، سپوږمی- سپوږمیز، توغندی- توغندیز. دې بېلګو ته په کتو، وايو چې دا روستاړی په بېواک او غبرګغږ پای کلمو پورې د(يز) په بڼه نښلي. په خپلواک غږ پای کلمو کې بیا دوې بڼې لري، هلته چې د کلمې د پای واول بې‌خجه دی، غورځي او روستاړ ورسره د(يز) په بڼه او هلته چې د کلمې پای واول خجن دی، د (ییز) په بڼه راځي، نو باید په نیمه فاصله ولیکل شي. دا روستاړي باید یو د بل پرځای ونه کارول شي، اسانه لار يې همدا ده، چې دواړه د کلمې سره تلفظ شي که دواړه ورسره برابر شو، نو( نی) باید وکارول شي، ځکه (نی) د هغو کلمو سره روان او اسان نه تلفظ کېږي دکومو سره چې د(ییز) کارونه سمه وي، برعکس (ییز) د (نی) د کارونې ځای کې کله ناکله روان او اسان تلفظ کېږي. د سمې او دقیقې کارونې بله لار يې، نحوي چاپېريال ته کتل دی، يانې د شک په صورت کې، چې کوم یو يې سم دی؟ باید دواړه روستاړي په بېلابېلو جملو کې وکارول شي، چې دې سره يې هم سمه او ناسمه بڼه مالوملولی شو.

**ماخذونه**


رښتين، صديق الله. (۱۳۸۹ل). د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه. (دويم چاپ). ننګرهار: مومند خپرندويه.

خوبشکی، محمد صابر.( ۱۳۹۷ل). پښتو معاصر ګرامر( دويم چاپ)، ننګرهار:جهان دانش خپرندويه.

خوبشکی، محمد صابر.( ۱۳۹۸ل). پښتو غږپوهنه او وييپوهنه، ننګرهار: ختيځ کتاب پلورنځی.

زيار، مجاور احمد. (۱۳۸۴). پښتو پښويه، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

زيار، مجاور احمد. (۱۳۹۱ل). پښتو سيندګی/ نويزونه( دويم چاپ).کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

ليبر، روشل. (۱۴۰۲ل). د مورفولوژۍ پېژندنه. ژباړن: محب الله ترابي.کابل:کابل پوهنتون دولتي مطبع.